# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعي


۱۹ سپتمبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## لیکنه او څېړنه
## ۸

**۱۸- پوهه او عقل :**

انسان، د ژوندانه په بېلابېلو ډګرو کې، د پوهې او عقل له مفهومو سره اشنا دئ . د پوهې او عقل د بنېګڼو په باب په زیاترو دینونو او فکري ښوونځیوکي پراخې خبرې سوي دي؛ خو په اسلامي عرفان کې، پوهې او عقل ته له یوه ځانګړي زوایې څخه کتنه کېږي . د پوهې او عقل په اړه د عرفاني مخکښانو نظریې، تر ډېره بریده له قرآني نصوصو او نبوي حدیثو څخه الهام اخلي .

په قرآني او نبوي حدیثو کې، د پوهې د فضلیت، د ناپوهی او جاهلانو د غندنې په اړه ډېرې ارزښتناکې لارښووني سوي دي؛ د مثال په ډول د عظیم شان قرآن د اعراف د سورت په یوسلو نه نیوییم آیت ( ۷ : ۱۹۹) کې راغلي دي : « خذو وامر بالمعروف و اعرض عن الجاهلین » یاني ( اې محمده! ) د بخښنې خوی غوره کړه، د نېکو کارو امر وکړه؛ او له ناپوهانو څخه مخ واړوه . د یونس ( نصر ) د سورت په نه اتیایم آیت ( ۱۰ : ۸۹ ) کې د ناپوهو کسانو د متابعت نه کولو په باره کې داسې حُکم سوئ دئ : « ولا تتبعآن سبیل الذین لا تعلمون » یاني د هغوکسانو پر پله پل مه ایږدئ، چې د توحید د پوهې لار یې زده نه یې (وي) . د بني اسراییل ( اسرأ ) د سورت په دو اویایم آیت ( ۱۷ : ۷۲ ) « ومن کان فی هذه اعمی فهو فی الآخرة اعمی و اضل سبیلا»کې ، هغه چا ته هم په آخرت کې د ړانده په سترګه کتل سوي دي، چې په دونیا کې بې خبره او ړوند یي . د قصص د سورت د پینځه پینځوسم آیت ( ۲۸ : ۵۵ ) په وروستی برخه کې، له ناپوهانو څخه لار بېلول، نېک کار ګڼل سوئ دئ : « . . . سلام علیکم لا نبتغی الجاهلین » یاني پر تاسې دي سلامتي یې، چې د ناپوهو کسانو

پر لار نه ځئ . همدغه راز، د انعام دسورت په پينځه دېر شم آيت ( ۶ : ۳۵ ) او د هود دسورې په شپږ څلوېښتم آيت ( ۱۱ : ۴۶ ) کي د ناپوهی له بده شره، پناه غوښتل سوي ده . . .

د پوهي ښېګني اوله ناپوهی څخه دکرکي په باب، د رسول اکر م ( ص ) په احاديثو کي هم ډېري ارزښتناکي خبري راغلي دي . په يوه مبارک حديث ( طلب العلم فريضة على كل مسلم و مسلمة) کي، د پوهي زده کړه، پر هر مسلمان سړي او مسلماني ښځي، فرض ګڼل سوې ده . په يوه بل حديث کي، د عربو له ټاپو وزمي څخه د چين ليري والي ته په پاملرني سره د پوهي د تر لاسه کولو په اړه، داسي ويل سوي دي : « طلب العلم و لوكان فى صين » ياني پوهه تر لاسه کړه! که څه هم په چين کي يي . په يوه بل حديث کي، د هغه چا خبرو ته غوږ نيول د شيطان پيروي ګڼل سوي دي، چي د پوهي او هوښيارۍ د ډګر د بې ساري شخصيت - حضرت محمد ( ص) په پوهه نه پوهيږي . په دې حديث کي داسي لولو : « من اتبع الذين ان لم يعلم من علم النبى فكانما يتبع الشيطان و من يتبع الشيطان فماواه فى النار » ياني هغه څوک، چي د نبي په عِلم نه پوهيږي، د هغه چا په شان دئ، چي د شيطان پيروي يې کړې يي؛ اود هغه چا ځای اور دئ ، چي د شيطان پيروي کيي . دغه راز، په يوه بل حديث شريف کي د عقل په اړه داسي ويل سوي دي : « العقل غريزى مميز بين خير الخيرين و بين شر الشرين » ياني عقل د دوو خيرونو او دوو بديو تر منځ توپير کوونکي غريزه ده[۱].

د اسلامي تصوف او عرفان مخکښان باور لري، چي د الله تعالی ذات د پوهي او کمال يوازنی سرچينه ده . دکايناتو د هر موجود او هري پيښي په باب بشپړه پوهه، يوازي د رب العالمين په ذات او هستی کي نغښتي ده . لوی څښتن له خپلي ارادې او غوښتني سره سم، بندګانو ته دپوهي اوعقل بې ساری نعمت ورکيي : چاته ډېر، چاته لږ او چاته هيڅ . د پوهي اوعقل وېش هم د نورو برخو په څېر ازلي منشأ لري؛ هر څه د حق تعالی په واک کي دي . لکه څنګه چي د بقرې د سورې په دوه سوه نه شپېتم آيت ( ۲ : ۲۶۹ ) کي، په دې اړه داسي راغلي دي : « يؤتى الحكمة من يشاء ومن يؤت الحكمة فقداوتى خيرا كثيرا . . . ۲» د آل عمران د سورې په درو اويايم آيت ( ۳: ۷۳) « . . . الفضل بيدالله توءتيه من يشآء . . . ۳ » ، د مائدې د سورې په څلور پينځوسم ( ۵ : ۵۴) آيت « . . . فضل الله يوء تيه من يشآء ... ۴» او ډېرو نورو قرآني آيتو کي دې مسألې ته څرګنده اشاره سوې ده .

په اسلامي تصوف او عرفان کي، پوهه هغه رڼا ګڼله کيږي، چي انسان دکُوېر ( کفر ) له تيارو څخه را باسي؛ او د حقيقت و ايمان لوري ته يې بيايي . د ناپوهه زړه د شک،ګومان، بې خبری او جهالت له تيارو ډک يي . له دې امله، هر کار ړندو په څېر سرته رسيږي؛ د حق او باطل تر منځ د توپير کولو وس نه لري . پوهه، په دونيا او آخرت کي د نېکمرغی لار او وسيله ده . پوهه د عمل لاربښوونکې؛ او له حق تعالی سره د ميني او نيژدېوالي نخښه ده . ابليس او د هغه لښکر يوازي پرهغو کسانو بريد کيي، چي د پوهي او هوښيارۍ له ستر نعمت څخه بې برخي يي[۵] . په اسلامي تصوف او عرفان کي، پوهه پر دوو ډولو وېشي :

- ظاهري يا کَسبي پوهه .
- باطني يا ذوقي پوهـــه .

ظاهري يا کَسبي پوهه، د ژوندانه د مادي او دونيوي اړخو په اړه، هغه رسمي او رواجي پوهه ده، چي له کتاب او دفتر، ښوونځي او مدرسې، معلم او ملا څخه د زده کړي له لاري، تر لاسه کيږي . د عرفاني صاحب نظرانو د باور له مخي، ظاهري پوهه، له خپل ټول ارزښت سره سره، د خالق تعالی د ذات ، د انسان او کايناتو د پيدايښت؛ او د دوی تر منځ د نه شلېدونکو خپلمنځي اړيکو په باب د بې شماره پټو واقعيتو د کشف او پېژندني

وس نه لري . له دې امله، د تصوف او عرفان په نړۍ کې تل د حقيقي يا باطني پوهې پر انکار نه منونکي اړتيا ټينګار کيږي . باطني عِلم د ظاهر ي پوهې پر خلاف، د رياضت او عرفاني کوښښو له لارې تر لاسه کيږي . باطني پوهه، سالکانو ته د ځان، جهان او خالق تعالی د هستی په تړاو پټ حقيقتونه ښيي؛ د هر شي او هرې پيښې پر ظاهري اړخوسربيره د هغو د باطن او ماهيت په باب هم پټ واقعيتونه برملا کيي . داپوهه يوازې دخدای نازولو دوستانو ته ځانګړې سوې ده6 .

د اسلامي تصوف او عرفان په اصطلاح، هغه پوهه چې د الله تعالی د يوې بې ساري پېروزينې په توګه، بې کتاب او قلمه، بې ښوونځي او مدرسې، بې ښوونکي او مُلا، بې پرښتې او پيغمبره، نيغ په نيغه په کشفي او الهامي بڼه د پروردګار له خوا د هغه د سر سپارلو دوستانو پر زړو القأ کيږي، د « لدني پوهې » په نامه ياديږي7 . د عظيم الشان قرآن دکهف دسورت په پينځه شپېتم آيت ( ۱۸ : ۶۵ ) کې د حضرت خضر ( ع ) د لدني پوهې په اړه يادونه سوې ده، چې دهغه په برکت يې د خدای د اولعزمه پيغمبر - حضرت موسا ( ع ) لارښوونه کوله . په دې کريمه آيت کې راغلي دي : « فوجدا عبدا من عبادنا اتينه رحمة من عندنا و علمنه من لدنا علما » ياني دوی دواړو زموږ له بندګانو څخه يو بنده وموند، چې هغه ته مو خپل رحمت ورکړئ ؤ؛ او په خپله مو هغه ته لو (لويه) او ځانګړې پوهه ښوولې وه . د لقمان د سورې په دولسم آيت ( ۳۱ : ۱۲ ) کې، حضرت لقمان ته د عقلمندۍ او پوهې د ورکړې يادونه سوې ده . يوازې دخدای تعالی د لېونی او سوځونکي مينې پتنګان د « لدون » د بې ساري پوهې وياړ لري . هغوی ددې پوهې د تر لاسه کولو دپاره نه کتاب لوستلو ته اړ دي؛ او نه هم د چا لوست او شاګردۍ ته . لکه څنګه چې مخکې هم اشاره وسوه، دپېښو او شيانو د حقيقت په باره کې دا پوهه هغوی ته دحق تعالی له خوا، مخامخ عطأ کيږي .

په اسلامي تصوف او عرفان کې، عقل ته د الله تعالی د ډېرې لويې او ارښتناکې پېرزوينې په سترګه کتل کيږي . نامتو صوفي- ابوسعيد ابوالخير ( ۳۵۷- ۴۴۰ هـ ق ) د عقل په اړه ويلي دي : « العقل الة العبودية » ياني عقل د عبادت وسيله ده . په اسلامي تصوف او عرفان کې، عقل پر دوه ډوله وېشي :

- د ژوند عقل يا کوچنی عقل، چې مرکز يې د انسان سر دئ . انسان د دې عقل په مرسته د خپل مادي او دونيوي ژوندانه ستونزې اواروي . له څنګه چې د نامه څخه يې ښکاري، دا عقل انسان ته د پټو حقيقتو او پېښو په برخه کې هيڅ لارښوونه نسي کولای .

- د ايمان عقل ، چې د معاد د عقل يا د عقلونو دعقل په نامه هم ياديږي . د دې عقل مرکز زړه دئ . انسان ددې عقل په مشرۍ نفساني ښېرتيا او مانوي (معنوي) لوړوالی ترلاسه کيي؛ پټ حقيقتونه پېژني؛ او له خپل اصل يا مبدا يې سره د يو ځای والی دپاره، لارښوونه کيي . له همدې کبله، عرفاني سالکان د « عقل عقل » يا « ايماني عقل » ډېره ستره او ارزښتناکه الهي پېرزوينه ګڼي . د دې پر خلاف د « ژوندانه عقل » يا « کوچني عقل » ته په لوړه سترګه نه ګوري . د دوی په اند، داعقل زيان او اپت ( آفت) را ولي .

د پارسي ژبې د عرفاني ادب علمبردار - حکيم سنايي غزنوي ( د پينځمې هجري پيړۍ د دوهمې نيمايي په لومړيو يا منځنيو کلونوکې، په غزني کې زېږېدلئ؛ او د ۵۲۵ - ۵۴۵ هـ ق کلو تر منځ مړ سوئ ) دعقل همدا عرفاني مانا، په خورا ښه بڼه بيان کړې ده :

« عقل سلطان قادر خوشخوست

آن که سايهٔ خدا اش گـويند اوست

سايه با ذات آشنـا باشد

سایه از ذات کی جدا باشد

در مصالح مدبر جان اوست

در ممالک دبیر یزدان اوست

عقل کُل مر تو را رهاند زود

از قرینی دیو و آتش و دود

هر که با عقل آشنا باشد

از همه عیبها جدا باشد۸ »

په بل ځای کي، عقل دانساني بشپړتيا نخښه او حق ته د انسان د رسېدو يوازنی دليل ګڼي :

« عقل هم گوهر ست هم کانست

هم رسولست و هم نگهبانست

عقل در منزل اول ز اول

آخرش اولست همچو ازل

عقل در راه حق دلیل تو بس

عقل هر جایگه خلیل تو بس۹ »

ديوهي د بنېګڼي او ارزښت په اړه، د پارسي ژبي د لوی عرفاني مخکښ، حکيم سنايي، له حکيمانه بيانو او نورو معتبرو نصوصو سره سره، د اسلامي تصوف او عرفان لارويان په دې باور دي، چي د انسان پوهه او عقل په يوازيتوب سره د خدای پېژندني وس نه لري . د دوی په عقيده، هر څوک چي ګومان وکړي، په خپله پوهه او عقل سره يي د خدای ذات په بشپړه توګه پېژندلئ دئ، په حقيقت کي د هغه په نومو او صفتو تېروتلئ دئ؛ ځکه د انسان فکر او عقل د خدای له خوا پيدا سوئ دئ . مخلوقات هيڅکله له خپل خالق سره برابري او ورته والی نه لري۱۰ . خدای تعالی نه په موجوداتوکي دئ؛ او نه هم تر موجوداتو د باندي؛ خدای تعالی په واقعيت کي تر انساني فکر بهر دئ؛ د وجود په باره کي يي د ښنګه او ولي پوښتنه ګرسره نه ځايېږي؛ ځکه علت د معلول په خبر نه دئ ۱۱ .

داسلامي تصوف او عرفان وتلئ او منلئ لاربنوود - مولانا جلال الدين بلخي رومي ( ۶۰۴ - ۶۷۲ هـ ق) په خپل لوړ عرفاني اثر ( مثنوي معنوي) کي د ظاهري او باطني پوهي خورا ژور او په زړه پوري انځور وړاندي کيي :

« خرده کاری های عِلم هندسه

یا نجوم و علم طب و فلسفه

که تعلق با همین دنیستش

ره به هفتم آسمان برنیستش

این همه « عِلم بنای آخور » است

که عماد بود گاو و شتر است

بهر استبقای حیوان چند روز

نام آن کردند این گیجان رموز

« عِلم راه حق » و « عِلم منزلش »

صاحب دل داند آن را بـا دلـش۱۲ »

مولانا صاب، په یوه بل ځای کي ظاهري پوهه، د انسان پر اوږو پېټی ګڼي؛ او باطني پوهي ته د ژوند او بقأ د ملګري په توګه ګوري :

« خاتم ملک سلیمان است عِلم

جمله عالَم صورت و جان است عِلم

عِلم دریاست بي حدو کـنار

طالب عِلم است غواص بحـار

عِلم چون بر دل زند یـاري شود

عِلم چون بر تن زند بــاری شود۱۳ »

د اسلام د لوی او نامي عارف، مولاناجلال الدین بلخي رومي، په عقیده، عقل په یوازیتوب سره دخدای پېژندني وس نه لري؛ ځکه هره پوهه د ضدینو په پرتلي او مقابلي پوري اړه لري . نور له تیارې او خوښي له خواشینۍ سره، د مقایسي او مقابلي له لاري پېژندل کیږي . خدای تعالی کُلي وجود دئ؛ داسي هیڅ شی نسته، چي له ده سره په مقابله او پرتله کي وپېژندل سي۱۴ . د ده عارفانه بیان دئ، چي وایي :

« پس نهانیها به ضد پیــدا شود

چونکه حق را نیست ضد، پنهان بود

پس به ضد نور دانستی تــو نور

ضد را ضد می نماید در صـدور

نور حق را نیست ضدی در وجــود

تا به ضد اورا توان پیــدا نمود »

د همدي استدلال له مخي، هر څوک چي ګومان کیي، خدای یي په بشپړه مانا پېژندلئ دئ، په حقیقت کي یي ځان غولولئ دئ . د هغه په نومو او صفتوغولېدلئ دئ . دا د مخلوق فکر دئ؛ او مخلوق هیڅکله له خپل خالق سره یو شان والی نه لري . مولانا وایي :

« عقل سایهٔ حق بود، حق آفتاب

سایه را با آفتاب او چه تاب ؟ ۱۵ »

د وتلي عرفاني لاربنوود - شیخ عزیزالدین بن محمد نسفي ( ۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) په نظر، تر عِلم مخکي ناپوهي دوږخ دئ؛ او تر عِلم وروسته ناپوهي جنت دئ ؛ځکه تر عِلم مخکي ناپوهي د تمي ( طمعي) او سرابنوالي سرچینه ده؛ او تر عِلم وروسته ناپوهي د رضا او قناعت نخښنه ده ۱۶.

د اسلامي تصوف او عرفان ستر انګرېز څېړونکي - پوهاند نیکلسن ( ۱۸۶۸ - ۱۹۴۵ م) په خدای پېژندنه کي د پوهي او عقل د اهمیت په باب دا سي پوښتنه وړاندي کیي : « انسان څرنګه خدای پېژني؟» په حواسو سره خو یي نسي پېژندلای؛ ځکه هغه مادي وجود نه لري . په عقل سره یي هم نسي پېژندلای؛ ځکه هغه د فکر او عقل تر دایرې وتلئ دئ . منطق تر مالومو پولو ها خواڅه نه پېژني . فلسفه هم له تضادو سره لاس او ګرېوان ده . د کتاب او حکمت پلویان هم خوشي ځانونه غولیي ؛ او د حقیقت پر مخ د تشو خبرو اوریځي غوړیي .ځکه نو د خدای پېژندني پوهه یوازي د الهي تجلاوو، وحي او الهام له لاري تر لاسه کیږي۱۷ . » پروفیسر نیکلسن، د قیل وقال ( ظاهري پوهي) او عرفاني پوهي تر منځ توپیر په دې ښکلو او په زړه پورو ټکو کي را

نغاړي : « عادي پوهه د عِلم په نامه یادیږي؛ خو هغه باطني پوهه چي صوفیانو او عارفانو ته ځانګړي ده، د معرفت یا عرفان په نامه یادیږي . » پروفیسر نیکلسن ، د معرفت او عرفان ترمنځ توپیر ته هم اشاره کیي. د ده په فکر، باید د دې توپیر د پوهېدو دپاره داسي بېل ټکي کار سي، چي د هر یوه مانا په سمه او دقیقه بڼه روښانه کړي . باطني پوهه د انسان د ذهني او مانوي کوښښو او فعالیتو نتیجه نه ده؛ بلکي د داسي پوهي موندل، په بشپړه توګه د خدای تعالی په اراده او پیرزویني پوري اړه لري . د صوفیانو معرفت داسي روحاني پوهه ده، چي مخامخ له خدایه تر لاسه کیږي؛ او له وحي، الهام او کشف څخه سرچینه اخلي . دا پوهه د ځراغ په شان د عارف پر زړه بلیږي؛ او د وجود هره برخه یې د هغه په بې ساري شغلو او پلوشو نوراني کیږي ۱۸. »

د پښتنو مفکر او اندیشمند عرفاني لاربښود - بایزید روښان اورمړ انصاري ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) د عرفاني پوهي د اړتیا اوله پوهي سره د عمل د بشپړ سمون په باب، خورا ژوري او په زړه پوري نظریې وړاندي کړي دي . دی، د قرآن کریم د اعراف د سورې د یوسلونه اویایم آیت ( ۷ : ۱۷۹) د یوې برخي « ... اولئک کاالانعام بل هم اضل اولئک هم الغفلون » په اِستناد، جاهلو او بې خبره کسانو ته دحیواناتو په سترګه ګوري . میاروښان، د دغو درو ډلو په حق کي د خدای تعالی د قهر او غضب خبره راوړي :

- لومړی هغه کسان، چي په خپلي پوهي لویي او تکبُر کیي .
- دوهم هغه کسان، چي په خپل عمل غره یي .
- دریم هغه کسان، چي د پوهي مخالف یي ۱۹.

بایزید روښان، په خلګوکي د دغه راز ناوړو صفتوپه باب وایي : « تاسي ددې زماني پاچهانوته وګورئ، هغوی د محمد رسول الله ( ع) کلیمه وایي؛ ځانونه مسلمانان بولي؛ خو د نوس د ککړتیا او دونیا پالني له امله نه یوازي هیڅ نیک کار نه کیي، بلکي یو له بله دښمني او بدي هم کیي؛ ویني تویوي او بې ګونا مسلمانان وژني . . . دغه راز ځینو هغو کسانو ته وګورئ، چي قرآن او نور کتابونه لولي؛ ځانونه مسلمانان او د نبي د پوهي طالبان بولي؛ خو په خپلي پوهي سره مالونه او شتمنی تر لاسه کیي . ځیني په قضاوت، ځیني په مفتي ګری، ځیني په خطبو ویلو، بعضي په امامت، بعضي په حج کولو، بعضي د چینو په اغوستلو، ځیني په درویښی او قلندری او ځیني نورپه پیری او مرشدی سره ( چي دا ټول د دین کارونه دي )، دونیا او شتمنی پیدا کیي . بایزید روښان، د رسول علیه السلام د دې مبارک حدیث ( من طلب الدنیا بعمل الآخرة فما له فی الآخرة من نصیب ) له مخي، هغه کسان د جنت له نعمته بې برخي ګڼي، چي د دین په کار سره دونیا تر لاسه کړي۲۰ .

بایزید روښان، هغوکسانو ته د منافقینو خطاب کیي، چي د قرآني آیتو او نبوي حدیثو په مانا پوهیږي؛ خوعمل نه په کیي۲۱ . د پښتنو دا مفکر او عارف پیشوا له یوې خوا بې معرفته پیر د بې چته خوني په شان ګڼي( . . . الشیخ بلا معرفة کالبیت بلا سقف . . . ) او له بلي خوا بې عمله پیر ته د بې نوره ځراغ په سترګه ګوري ( الشیخ بلاعمل کالسراج بلا نوره ۲۲) . دغه راز، پیر روښان ، د عِلم او عمل د برابری په باب د سیدالمرسلین - حضر ت محمد ( ص) په دې مبارک حدیث استناد کیي : « من طلب العلم لاجل الدنیا فهو کافر ومن طلب العلم لاجل حجة فهو منافق و من طلب العلم لاجل العمل فهو مسلم » یاني هغه څوک کاپیر ( کافر) دئ، چي د دونیا دپاره پوهه غواړي؛ هغه څوک منافق دئ، چي د حُجت دپاره پوهه غواړي؛ اوهغه څوک مسلمان دئ، چي دعمل دپاره پوهه غواړي۲۳ .

بایزید روښان ، دکابل د مغولي واکمن - نصیرالدین همایون زوی؛ او د جلال الدین اکبر- میرېزی ورور) له لوی قاضي، قاضي خان، سره د پوښتنو او جوابو پر مهال، خپله

عرفاني پوهه، لدني پوهه بولي . دغه عالِم قاضي له پير روښان سره تر اوږدې مناظرې وروسته، د شريعت، طريقت، حقيقت او معرفت په علوموکي د هغه لوړ مقام ته په اشاره کولو سره، داسي پوښتنه وکړه : « دا نعمتونه دي له چا او کمي کورنی څخه تر لاسه کړي دي؟ پير دستگير وويل : له دې کبله چي زموږ طريقه ويسيه طريقه ده؛ نو حق تعالی د حضرت رسالت پناه له برکته، په خپله پيرزوينه کړې ده؛ او د لدن له پوهي يې برخمن کړئ يم؛ د قرآن مانا يې را ښوولې ده؛ او د عرفاني مقامو اوډنه او د هغو امر و نهي يې پر زړه را القأ کړې ده [۲۴] .

د عرفاني پوهي په بې ساري پسول سمبال عارف، علي محمد مخلص، د مؤمن زړه د باطني پوهي هينداره او مرکز گڼي . کله چي د پټو حقيقتو پلټونکی او سپړونکی د خپلو عرفاني کوښښو او رياضتوپه اوږدو کي د ميني يا عشق مقام ته ورسيږي؛ بيا يې نو زړه د الهي انوارو د ځلېدو هينداره او د باطني پوهي سرچينه گرزي . د مُخلص له عرفاني نړی ليد سره سم ، د پروردگار ذات په باطن کي د زړه ښوونکی او استاد دئ، چي د لسوحسو له لاري هغه پېژني . مُخلص، په يوه غزله کي زړه له پاچا، عقل له وزير او لس گوني حواس له لويو پوځي واکمنانو سره تشبيه کيي؛ او د هر يوه مقام داسي بيانيي :

زړه گويا خبره وايي په ځو بـابه
دی دانا شه د مخفي گنـج له کتـابه
مُعلم حق، دانا دی د عـالَم که
لکه ويش چي اوده پاڅوي له خــوابه
زړه گويا له دانايي شه بـاور وکړه!
دانايي د زړه حاصله له دې بـابه
پنج بيرون، پينځه درون گوره لـس واړه
باصره، شامه وسامعه البـــابه
ذايقه، لامسه دا پينځه ظـاهر دي
د باطن حس دئ خيال وهم زود يـابه
حافظه، مفکره، مذکره شـوه
د باطن د پوهي داپينځه اربابه
هر هر يو له خپل عالَمه خــبر راوړي
و وزير ته يي ظاهر که بې حجــابه
زړه بادشاه، عقل وزير، حواس سرهنگ دي
دا وزير بادشاه خبر که له ځـوابه
حق له لسو بابو عِلم پر نـازل که
ځکه زړه يي دانا کړئ دئ هر بـابه

په يوه پارسي مثنوي کي د زړه د باطني فضيلتو او ښېگڼو په باره کي داسي وايي :

« . . . همين دل بود لوح اُم الکتاب
ازين دل بيـــابی جواب صـــــواب
همين دل بود باب شهـــر علوم
همين دل بود نهر بهر علـوم

همین دل بود کان عِلم و هـنر

همین دل بود صاحب خیر وشـر

همین دل بود شاه اندر وجـود

همین دل بود مادۀ بخـل وجـود

همین دل بود داعی و رهنمـا

همین دل فراخ ز زمین وسما

نه گنجد حق در زمین و آسمان

بگنجد در دل چنین گفت هـان . . . ۲۵ »

د پوهې او عقل عرفاني مفهومونه هم زموږ د فکور شاعر، علي محمد مخلص، په ژورکلام کې خورا مهم ځای لري.  په یوه غزله کې د ظاهري او باطني پوهې تر منځ باریک توپیرونه، په داسي ډول انځوریي :

په ظاهر عِلم که هر څو رسیـده شي!

په باطن خپسر تور بت ګوري بي مخه

شریعت مثال شجر حقیقت نــم دئ

بي له نوه ونه وچه شــي بي زخه

څو د حقیقت مایه پرې ګډه نـه که

خام شوده د شریعت شي آخـر تخه

ظاهري عِلم برسیره مخ صـفا که

باطني عِلم زایل که لــه زړه رخه

بل ځای، دا عرفاني نظریه بیانیي، چي په ظاهري او  تقلیدي  پوهه غره کسان ، هیڅکله ریښتیني محبوب ته نسي  رسېدلای  :

په دا عِلم، معرفت څه له نـــازېږي!

په تقلید به روزي نه کړي یارِ غـار ته

بي لیده د زړه یقین نشي باور کـــړه!

په دنیا کښي نن حاصل کړه د شه یار ته

په جهان  کښي د حق دید د زړه په سترګو

پس له مرګه به دوست ووینې اظـهار ته

مخلص، په یوه پارسي مثنوي کي، باطني پوهه  د حق تعالی نور بولي، چي د هغه په وړانګو کې ټول حجابونه او خنډونه لیري کیږي؛ او د هر شي ماهیت له ورایه ښکاري :

« فراست  بود نور حق ای عزیـــــــــز!

کند حق و باطل از آن جور تمــــــــیز

کسی را که نور خدا شد چـــــــــراغ

از آن نـــــــور بشناخت طوطی ز زاغ

بدانست نوری ز ناری ز هـــــــــــــم

از آن نـــــــور دیده وجـــــــــود عدم

از آن نور بشناخت جان را ز تـــــن

از نـــــور دانست خار از سمـــــن

از آن نور بینا شود چـــــــــشم دل

ببیند ماهیـــــــــت آب و گـــــل

بداند کماهی تهی جـــــسم و جان

که آن هـــــــــست ماهیت این و آن

عوالم عوارض بر آن مــــــــاهیت

خبر گیـــــر جویـنده ز آن مـــاهیت

ببینی خدا را سیاهی مـــــــــــال

عوالم حروف اند ز آن بر کمال . . . ۲۶ »

بل ځای بیا هم، د غیب او باطن پوهه، د مؤمن د ایماني نور نیتجه بولي :

« . . . زانکه مؤمن به نـور حق بیند

نیـک و بد را ورق ورق بیـند

غیب و باطن به پیش او ظاهـــر

همچو خور بر سحاب بود باهر . . . ۲۷ »

د ظاهري او باطني پوهي د ببلابیلو اړخو په اړه د مُخلص عارفانه بیانونه خلاصېده نه لري . هغه په یوه غزله کي، هر څوک د تقدیر په لاسو کي اسیر ګڼي .څوک د دونیا، څوک د عقباو څوک دریینتني میني او واقعي معبود په مینه کي ډوب ګوري . د ده ښکلي بیان ته پام وکئ :

د طالب په خپل مطلوب پسي تلاش دئ

دا وینا پر خاصو، عامو باندي فاش دئ

ځیني عقل د معاد غواړي له خــدایه

دچا حُب محبوب، مطلوب عقل مـعـاش دئ

یو تلاش که دبهښت په حاصـلولو

دچا مینه له دنیا پسي اوبـاش دئ

مخلص، په یوه بله غزله کي دهغه واصل عارف ځیني ځانګړتیاوي ښيي، چي زړه یې د الهي انوارو ځلانده هینداره يې؛ او د لدون د پوهي په خبر د ټولو علومو او هنرو په زېور ښکلی سوئ یې :

دی مظهر د کُل عــلوم شه

تري څرګند جمله هــنر دئ

تل د زړه په تخته کښل کا

حق کاتب زړه یې دفتر دئ

چي دایم و زړه ته ګـــوري

پري « لدون »عِلم اظـــهر دئ

که د جبر او اختیار په عرفاني تیوري کې، انسان د فاعل مختار په څېر ومنل سي؛ بیا نو دګوناوو اوتقصیروپه سرته رسولو کې د انسان ناپوهی او بی خبري تر ټولو ستر او ټاکوونکی عامل دئ . مخلص، په دې پارسي شعر کې، ناپوهي او بې خبري نه یوازي تیاره او تورتم؛ بلکې د ټولو ګوناوو منشاء او مبداء ګڼي :

« . . . جهل تاریکی بود در ملک دین

غافلانند جاهلان ذوالعیـن

غفلت است سرچشمهء جمله گـناه

غافلان و جاهلان اند دل سیاه ۲۸ »

مخلص، د ظاهري او باطني پوهي تر منځ یو بل ارزښتناک توپیر داسي را ښیي :

په ظاهر عِلم که ځان ګورې راسخـه

نن حاصل کړه پټ علوم له مشـایخه

په ظاهر عِلم که هر څو رسیده شې!

بې باطن خپسر تور بت ګورې بې مخه

بل ځای، پر حیواناتو باندي د انسان ښه والی، یوازي د هغه په نوراني عقل یا هغه ځواک کي نغښتئ بولي، چي د هغه په مرسته خپل ځان او خالق پېژني؛ حق او باطل یو له بله بېلیي:

« نیست در عقل معــاش ای نــامور

آدمی را فضل بر حیـــوان نگر

زانکه اورا نیز هست عقل معـاش

نیست او را عقل نور ای مـر د واش

عقل نور آن را بود در سر جـوان

آنکه دارد حُب مولا در جـان

آنکه او را نیست حُب لم یـــزال

عقل نورانی ندارد آن رجـال

عقل نور است در سر انسان بـدان

فرق حق باطل کند زان نور هـان

غیر حق باطل بود یار عزیـــز

میل باطل چون کند صاحب تمیز ۲۹ »

مخلص، د عقل تر عام وېش وروسته، د انساني عقل څلور ډولونه ( دناپوهی عقل، د زیانکاری عقل، نیمګړی عقل او بشپړ عقل )داسي بیانیي :

« ... عقل شد بر چـــهار انواع در بشر

باتو گویم بشنو از مـن ای پسر!

عقل جهل است نفس را در اندر بـدن

عقل خسران است شیـــطان را بتن

عقل ناقص قلب را بشنـــاس زود

زیرا که او بهر جنـــان کرده سجود

عقل کامل روح را در تن بــدان

پس روی این عقل شو ای نو جوان ... ۳۰»

وروسته، د دغو څلورو عقلو ښېگڼې او بدی، موخې اومأموریتونه په جلا جلا توگه داسې را پېژني :

« در پی دنیا گمارد عقل جهل

در پی جاهل مرو اورا بِهِل

هر که جاهل را کند او پیشوا

عاقبت در چاه فتد او از غِــوا

هر که را هادی بود عقل زیــان

میل او گردد سوی عصـیان بدان

عقل ناقص هر که را رهبــر شود

سوی جنت میل او اکــثر شود

هر که را رهبر بود عقل کمــال

حُب او افزون شود با ذوالجـلال

گر شوی مایل به ذات حق جــوان

عقل کامل پیشوا کُن در جهان . . . ۳۱ »

په یوه پارسي مثنوي کې، ښپېر عقل هغه نورگڼي، چې له برکته یې هر ه خوا روښانه؛ او د هر پټ او ښکاره له مخه پردې لیرې کیږي . له دې امله هغه ته پر دې نړۍ د پاچا خطاب کیې :

« عقل کُل را از کرامات گفــته اند

درین معنی پیـــــــــغمبر سفته اند

عقل کُل نور است رویش هر طــرف

پیش و پس روشـــن کند از شــــرف

پیش و پس بیناست رویش هر طرف

او مخاطب است حق را کُــــن یقین

زو بپرسد حق تعالی خیــــــــر وشر

زانکه از دنیا و عقــــــــبی شد خبر

پیش او ظاهر نهان و آشـــــــــکار

پس چنین دانا بپرسد کــــــــــردگار

عقل شاه است اندرین عالَـــم جهان

معمار این جهان عـقل است هان . . . ۳۲»

مخلص، د عقل او حواسو د ارزښت په باب له دې ژورو عارفانه خبرو سره سره، د حق تعالی نور ته د رسېدو په لار کې، د هغو بې وسی او کمزورۍ ته داسې گوري :

څو د حق نور دې دلیــــل نشي د لاري

دحواس په نور به نه رسي دلبــر ته

دا حواس مثال څراغ، عقل کوکب دئ

دحق نور مثال آفتاب گوره نظر ته

مخلص، د عرفاني لاري معراج ته رسېدل، یوازي د پوهي او عمل په یوموټي توب او پیوستون کي بولي :

« . . . عِلم چشم است و عمل در وی نظر

بی نظر چشم است کور و بی بصـــــــــر

گر بدانی راه و منزل کعـــــــــــــبه را

بی مراحل کی رسی تو قبـــــــــــله را

عِلم باید هم عمــــــــــــــــــل در راه دین

آنگهي گردد مسلمان شاه دیـــن . . . ۳۳»

په یوه بله ښکلي پښتو غزله کي، د پوهي او ناپوهی، هوښیار او جاهل تر منځ توپیرو ته داسي گوته نیسي :

په جهان تر دانایي نشته دولـــــت بِه

د دانا په دوارو کـــــونو دئ عزت بِه

تر دانا درجه نشته دچـــــــــــــــا لوړه

دانا کس دئ په دنیا هم په قیامت بِه

د دانا د نادان فرق و گوره! دلـــــــــته

د عالِم خوب د جاهل تر عبــــــادت بِه

***

معرفت به د دانا په صحبت مومې!

د جاهلو له صحبته دئ خلـــــوت بِه

د داناپه نزدېکت، نادان دانا شـــــــي

په دنیا کښي د دانا کس نزدیکت بِه

مخلص، د پوهوکسانوکلام ته په داسي سترگه گوري، چي پرخوړ زړو د ملهم او د جاهلانو پر زړو دخنجر په څېر اغېزه ښندي . په داسي حال کي، چي خپله عارفانه وینا په قرآني نص او نبوي حدیث ثابته بولي، د جاهلانو له دوښمنی او مخالفته هیڅ بېره او اندېښنه نه ښیي :

د دانا کلام ملـــهم د خوړو زړونو

د نادان پر زړه تېره بلوسي تر خرصـه

چي جاهل ځني منکر شي څه یي باک دئ

د مخلص وینا په نص، حدیث ده رصه

مخلص، د پوهي او هوښیاری لوړ فضیلت ته له خپل ژور درناوي سره سره، هغه هوښیار تر حیوان کښته گڼي، چي د نوس د غلامی په ځنځیرو تړلئ یي :

که سړی عاقل، هوښیار حیوان نادان دئ

چي د نوس په نغوته چار کاندي هوښیار کِه

د مخلص د عرفاني ډکټورینو له مخي، باید د پوهي او هوښیارۍ خاوند خاصه پوهه او ځانګړي صفتونه ولري . د ده په اند، عالِم هغه څوک دئ، چي د شریعت، طریقت، حقیقت او معرفت په علومو پوه وي؛ د هر مقام امر او نهي وپېژني؛ د وحي او الهام، غیبي ږغ او ملایکو پوهه یې موندلي یي؛ د نبوت او ولایت پر حقیقت سربېره د نبي او ولي مقام ور مالوم یي . هغه په یوه ښکلي پارسي مثنوي کي داښایسته انځور داسي بیان کړئ دئ :

« وصف دانشمند بشنو ای مشفق

تا بدانی زین صفت دانا رفیـــــق

علم شرع را باید بداند او مــــدام

هم طریقت را بداند لا کـــــــــلام

مر حقیقت رابداند مو بـــــــــــمو

آب دریا را ببیند در ســـــــــــبو

دانش عرفان حق حاصــــــل بـــود

پیش چشم غیر حق باطل بـــــــود

او ببیند ذات حق بحر محیــــــــط

در گرفته هم مرکب هم بسیـــــط

امر و نهی این مقام و سیر هـــــــا

پیش او روشن چو خور اندر سمـــا

وحی الهامش کند او هم جـــــــدا

او بداند مر صدا را از نـــــــــــدا

وسوسه و الهام را دارد تمیـــــــــز

در میان صورتها آرد تمـــــــــیز . . .

***

چون بشد این عِلــمها مکشوف او

نام دانشمند شد ثابت بـــــر او ۳۴»

مخلص، د عقل بي سارو ښېګنو ته په پاملرني سره بیاهم د الله سبحانه و تعالی د بي مثله ذات او د هغه په ناپایه کایناتو کي د بي شماره رازو د کشف او موندني په لار کي د عقل بي وسی او کمزورۍ ته اشاره کيي؛ او عرفاني سالکانو ته سلا ورکيي، چي د حق تعالی هستی ته د رسېدو په مقصد، یوازي د میني او اخلاص لار غوره کړي :

« . . . عرض را جوهر کند حق در زمان

باش اندر کار حق جان بی گمـــــان

عقل را آنجا نباشد رهگـــــــــــــذر

عقل را بگذار در قدرت نگـــــــــــر

عقل اندر کار حق کور است و کـــــر

مانده است در راه چون در راه خــــر

امنا شو آنچه گوید رهبـــــــــــــران

عقل و تأویلات بیفگن از میان . . . ۳۵»

د عقل او میني مسأله، په عرفاني شاعرۍکي خورا ژوري ريښې لري . د پښتو په ارته او بډايه عرفاني شاعرۍ کې هم د عقل او عشق تر منځ حساسو اړيکو ته په بېلابېلو ډولو اشارې سوي دي . زموږ تر سترگه ور او نظريه پرداز عارف شاعر، علي محمد مخلص، لږ و ډېر نيمه پېړۍ وروسته، د پښتو د نوښتگر او انځور شعر سرلاري - حميدبابا ( تر ۱۱۴۸ هـ ق پوري په باوري توگه ژوندی) هم په يوه ښکلي او زړه وړونکي غزله کي، د عشق په وړاندي د عقل دکمزورۍ او ناتوانۍ کيسه بيان کړې ده . د مُخلص په عرفاني فرهنگ کي د پوهي او عقل دا برخه، د نکته دان او موشگاف حميد بابا د غزلي په دغو بيتو سره را نغاړو :

« که هر څو تر حيوان بِه بولي ځان عقل

عاقبت د عشق په کار شه حيران عقل

د عشق رنځ ويلۍ بويه ومجنون ته

دلته نه چليږي هيڅ د لُقمان عقل

د عُشاقو په جرگه پوښتېده نشي

که هزار ځله شي خان و سُلطان عقل

د مجنون تر سادگيه صدقه شه

زيرکي د افلاطون په روښان عقل . . . ۳۶»

د نور ما لومات دپاره و گورئ : روح، زړه، عرفان او معرفت .

لمنليکونه

۱ مخلص، حالنامهء پير روښان ۱۶۰ .

۲ ژباړه : ( الله تعالی) په خپلي ارادي سره چا ته حکمت ورکيي؛او هغه چاته چي حکمت ورکړل سو، په حقيقت کي هغه ته ډېر خير ورکړل سو .

۳ ژباړه : فضل او حکمت د حق تعالی په لاس کي دي، هغه چا ته يي ورکيي، چي اراده يي وکړي .

۴ ژباړه : د الله فضل دئ، هغه چاته يي ورکيي، چي اراده يي وکړي .

۵ رزمجو ۲۴۲ .

۶ سجادی ۳۳۹ .

۷ سجادی ۳۴۰ - ۳۴۱ .

۸ سنايی غزنوی ۲۹۷- ۲۹۸.

۹ سنايی غزنوی ۲۹۵- ۲۹۶.

۱۰ رزمجو ۱۳۱ .

۱۱ رزمجو ۱۳۶ .

۱۲ بلخی، مثنوی معنوی ۳۶۱ .

۱۳ بلخی، دوره‌ء کامل مثنوی معنوی ۵۱ .

۱۴ عبدالحکیم ۱۵۱ - ۱۵۲.

۱۵ عبدالحکیم ۱۵۱- ۱۵۲.

۱۶ نسفی، کشف الحقایق ۱۰۵.

17 Nicholson 69 -70.

18 Nicholson 71.

۱۹ مخلص، حالنامه‌ء پیر روښان ۱۶۴ .

۲۰ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۱۶۴- ۱۶۵ .

۲۱ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۱۶۴.

۲۲ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۱۶۱ .

۲۳ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۱۹۹.

۲۴ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۳۳۹ - ۳۴۰ .

۲۵ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۵۷۹ .

۲۶ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۵۷۸ - ۵۷۹ .

۲۷ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۶۷۳.

۲۸ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۳۷۶ .

۲۹ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۶۵۶ .

۳۰ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۶۹۵.

۳۱ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۶۹۵ .

۳۲ مخلص، حالناۀ پیر روښان ۵۸۲ .

۳۳ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۲۴۵ .

۳ ۴ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۳۳۶ - ۳۳۷ .

۳۵ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۷۲۴ .

۳۶ مومند، ماشوخیل ۱۸۲.

پاته لري